مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۸۹** (از ۲۷ دلو الی ۴ حوت ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د اسلام‌آباد ناسته؛ آیا تور لېست د سولې خنډ دی؟**

د اسلام‌آباد ناسته ........ ۴

د اسلام‌آباد ناسته ولې و ځنډېده؟ ........ ۵

آیا د افغان حکومت اندېښنې په ځای دي؟ ........ ٦

**جایگاه افغانستان در پنجاه و پنجمین کنفرانس مونیخ**

پنجاه و پنجمین کنفرانس مونیخ ........ ۸

قضیۀ افغانستان در کنفرانس مونیخ ........ ۹

حاشیه‌های کنفرانس مونیخ ........ ۹

## مقدمه

که څه هم د امریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو له پروسې د افغان حکومت ناخوښی، د دغې پروسې له خنډ سره د مخامخ کېدو په اړه اندېښنې زیاتې کړې وې؛ خو کابل ته د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي، زلمي خلیلزاد وروستي سفر او څرګندونو، د دغو اندېښنو د لرې کولو په موخه هیله را پیدا کړې دي.

زلمي خلیلزاد له ولسمشر غني سره په لیدنه کې ویلي، د افغانستان او امریکا د حکومتونو ترمنځ د سولې په پروسه کې د لیدلورو او نظر توپیر نشته، موږ د افغان حکومت او افغانانو په محوریت په افغانستان کې د سولې لپاره جدي یو. افغان ولسمشر هم ویلي چې موږ د سولې په اړه له خلیلزاد سره د کار په نوې او واضح طریقې توافق ته رسېدلي یو.

زلمی خلیلزاد داسې مهال کابل ته سفر کوي چې په پاکستان کې د طالبانو او امریکایي استازو پلان شوې لیدنه هم ځنډېدلې. که څه هم طالبانو د دې لیدنې د ځنډ لامل په تور لیست کې د طالب مشرانو د نومونو شمولیت یاد کړی ـ چې په اړه یې افغان حکومت هم ملګرو ملتونو سازمان ته شکایت کړی دی ـ خو داسې ښکاري چې د دې ځنډ تر شا ځینې نور لاملونه هم شته. د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې پر همدې موضوعاتو بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه د مونیخ پنځه‌پنځوسم کنفرانس ته ځانګړې شوې ده. په دغه کنفرانس کې ولسمشر غني او ورسره تللي پلاوي ګډون کړی وه. دغه کنفرانس داسې مهال جوړېږي چې د افغانستان د سولې خبرې او له دغه هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو بحثونه ډېر ګرم دي. که څه هم تمه دا وه چې د افغانستان قضیه به د مونیخ کنفرانس د اجنډا مهمه برخه وي؛ خو د توقع خلاف په دغه کنفرانس کې په دې اړه د پام وړ خبرې ونه شوې.

## د اسلام‌آباد ناسته؛ آیا تور لیست د سولې خنډ دی؟



طالبانو څو ورځې وړاندې د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل، د دوی استازي به د دوحې له غونډې وړاندې (۲۰۱۹م کال د فبرورۍ ۱۸مه) د پاکستان د حکومت په رسمي غوښتنه په اسلام‌آباد کې له امریکایي استازو او د پاکستان له لومړي وزیر سره وګوري؛ خو له غونډې یوه ورځ مخکې، بېرته د دغې غونډې د ځنډېدو خبرونه خپاره شول.

د اسلام‌آباد ناسته داسې مهال تنظیم شوې وه، چې دغه هېواد ته د سعودي عربستان ولیعهد، محمد بن سلمان هم سفر لاره. په دې اړه دا هم ویل کېدل، چې طالب استازي به په اسلام‌آباد کې له محمد بن سلمان سره هم وګوري. دغه‌راز ځینې انګېرنې دا هم وې، چې د دغې ناسته له لارې امریکا او عربستان دواړه هڅه کوي، پاکستان د افغان سولې په پروسه کې رښتینې همکارۍ ته وهڅوي.

اسلام‌آباد ته د طالب استازو د تګ خبره داسې مهال کیږي، چې د افغان سولې په تړاو د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو په دوام، ټاکل شوې د روان زیږدیز کال د فبرورۍ په ۲۵مه، دواړه لوري یو ځل بیا د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان سولې په تړاو ناسته وکړي.

په اسلاماباد کې د پلان شوې ناستې ځنډېدل او د دغې ناستې د ځنډېدو عمده لاملونه، هغه موضوعات دي چې دلته یې په اړه لولئ.

## د اسلام‌آباد ناسته

له تېرو څو لسيزو راهيسې پاکستان تل هڅه کوي، چې پر افغانستان خپل نفوذ ولري. که څه هم پاکستان طالبانو ته د ځای ورکولو او له دغې ډلې د ملاتړ له امله تر نړيوالو فشارونو لاندې دی؛ خو اوس‌مهال چې طالبان له امريکا سره د سولې خبرو ته حاضر شوي، پاکستان يو ځل بيا هڅه کوي چې په دې پروسه کې هم خپلې موخې ترلاسه کړي او ځان ته د محوري رول ورکولو له لارې له امريکا او افغان حکومت څخه کريډيټ واخلي.

د اسلام‌آباد ځنډېدلې ناسته د روان زېږديز کال د فبرورۍ په ۱۸مه پلان شوې وه، په دې تړاو طالبانو په يوه اعلاميه کې ويلي وو، چې پاکستان ته به د سفر پر مهال طالب استازي د پاکستان له لومړي وزير عمران خان سره هم وګوري او د افغان ـ پاک اړيکو، په پاکستان کې مېشت کډوالو او سوداګريزو ستونزو په اړه به خبرې اترې ورسره وکړي.

وروسته له هغه چې طالبانو پاکستان ته د سفر په اړه اعلاميه خپره کړه، د افغان ولس او حکومت په کچه دې مسئلې پراخ غبرګونونه وپارول. د ټولنيزو رسنيو زياتره کاروونکو پر طالبانو نيوکې وکړې او پخوانيو طالب چارواکو هم په دې اړه انديښنې څرګندې کړې. همدارنګه ولسمشر اشرف غني هم دغه سفر وغانده او ويې ويل: «پاکستان له طالبانو  او طالبان له پاکستان سره بايد خپلې اړيکې واضح کړي.» په تعقيب يې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت رسماً د طالبانو د سفرونو په اړه ملګرو ملتونو ته شکايت وکړ.

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم ويلي، چې پاکستان هڅه کوي د سولې له لارې پر افغانستان خپل نفوذ ولري. د ده په خبره افغان سوله بايد د پاکستان له نفوذ وژغورل شي او په افغانستان کې ټولې ستونزې بايد د افغانانو ترمنځ د خبرو له لارې حل شي.

## د اسلام‌آباد ناسته ولې و ځنډېده؟

په اسلام‌آباد کې له امریکایي استازو او عمران خان سره د پلان شوې ناستې د ځنډېدو په اړه لاندې څو لاملونه مهم ګڼل کېږي:

**په سیمه کې د وضعیت ترینګلتیا:** مخکې له دې چې د اسلام‌آباد ناسته وشي، د هند تر ولکې لاندې کشمیر کې پر هندي پوځیانو موټربم برید وشو او شاوخوا ۴۵ تنه په کې ووژل شول. هند د دغه برید پړه پر پاکستاني پوځ او استخباراتو واچوله او د غچ اخیستلو لپاره یې پر پاکستان د برید ګواښ وکړ. د ډیلي او اسلام‌آباد د اړیکو له ترینګلتیا وروسته پاکستان د ملګرو ملتونو له سازمان څخه وغوښتل، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د تاوتریخوالي کمولو لپاره رول ولوبوي.

همدې وضعیت ته په کتلو سره دوه احتماله لیدل کېږي، یو دا چې هند د امریکا ستراتیژیک ملګری دی او ښایي امریکا د هند په خاطر په اسلام‌آباد کې د دغې ناستې ځنډېدل غوښتي وي او تر څنګ یې دا هم په پام کې نیولي وي، چې له دې سره به د افغان حکومت اندېښنې هم راکمې کړي. دویم دا چې ښایي خپله پاکستان هم اوسني وضعیت او شته فشارونو ته په کتلو سره، له دغې ناستې تېر شوی وي.

**سیمه‌ییزو رقابتونو ته طالبانو توجه:** پاکستان ته د طالب استازو سفر داسې مهال پلان شوی و چې له یوې خوا پاکستان د سعودي عربستان د ولیعهد محمد بن سلمان کوربه‌توب کاوه او له بلې خوا په ایران کې د جیش العدل ډلې له لوري یوه خونړي برید د سپاه پاسداران ۲۷ سرتیري ووژل. ایران د دې برید له امله پر پاکستان سختې نیوکې وکړې. انګېرنې دا دي، چې طالبانو له قطر او ایران سره د خپلو ډیپلوماټیکو اړیکو درلودو له کبله د اسلام‌آباد سفر لغوه کړی؛ ځکه ایران او قطر دواړه له سعودي عربستان سره ښې اړیکې نه لري.

**ملګرو ملتونو سازمان ته د افغان دولت شکایت:** پاکستان ته د طالب استازو د تګ د خبر له خپرېدو وروسته افغان دولت د طالبانو له سفرونو د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته شکایت وکړ. افغان دولت ویلي وو، چې طالبان په تور لېست کې شامل کسان دي او دوی نه شي کولی په دومره ازاده توګه او هر چېرته یې چې زړه وغواړي سفرونه وکړي. په دغه شکایت کې له ملګرو ملتونو نه غوښتل شوي، چې پاکستان ته د طالب پلاوي د سفر مخنیوی وکړي او په دې توګه د افغان حکومت غوښتنو او قانوني صلاحیتونو ته درناوی وکړي.

د اسلام‌آباد د ناستې د ځنډېدو په اړه د تور لېست مسئله هغه څه ده، چې طالبانو هم په خپله اعلامیه کې ورته اشاره کړې ده. د طالبانو په اعلامیه کې ویل شوي، چې د ملګرو ملتونو په تور لېست کې د طالب مشرانو د نومونو د شمولیت له کبله پاکستان ته د طالب استازو سفر لغوه شو او ناسته وځنډېده؛ خو په دې تړاو پوښتنه زیږي، چې طالبان خو له تېرو څو میاشتو راهیسې د مسکو په ګډون مختلفو هېوادونو ته سفرونه وکړل، له دې وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان ولې دا کار نه کاوه؟

## آیا د افغان حکومت اندېښنې په کمېدو دي؟

د افغان حکومت له لوري د روان لمریز کال د حوت په میاشت کې د سولې مشورتي لویې جرګې د رابللو پرېکړه، د مونیخ په پنځه‌پنځوسم کنفرانس کې د اشرف غني له لوري له طالبانو سره د سولې د خبرو په موخه د یوه کال موده یادول، کابل ته د امریکا د دفاع وزارت د سرپرست وزیر سفر، د مونیخ په کنفرانس کې د ټرمپ له مرستیال مایک پنس او زلمي خلیلزاد سره ملاقاتونه او تېره اوونۍ کابل ته د زلمي خلیلزاد سفر ټول هغه موارد دي، چې ښیي امریکا او نړیوالې ټولې د افغان دولت اندېښنو ته شین څراغ ورکړی دی.

که څه هم پخوا ولسمشر غنيد امریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو په اړه اندېښمن او ناخوښ و؛ خو نوموړي له زلمي خلیلزاد سره له وروستۍ لیدلي وروسته ویلي، چې د افغان سولې په تړاو د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره د کار پر یوې نوې بڼې هوکړې ته رسېدلی دی.

زلمي خلیلزاد کابل ته د سفر پر مهال د افغان حکومت له لوري له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو لپاره د مذاکراتي ټیم په اړه هم ویلي، چې په افغانستان کې د سولې راوستلو لپاره تر هر څه وړاندې یوه ملي او رښتیني مرکچې ټیم ته اړتیا ده. نوموړي ویلي، چې له لویې جرګې وړاندې باید ملي مرکچې ټیم جوړ کړل او لویه جرګه دې دغه ټیم په مذاکراتو کې خپل استازي وبولي او واک دې ورکړي.

د زلمي خلیلزاد د دغو څرګندونو په اړه ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، چې د سولې په اعلان شوي حکومتي پلاوي کې د اړتیا پر مهال بدلون راتللی شي. دغه‌راز خلیلزاد دا هم ویلي چې هڅه کوي، طالبان د سولې خبرو ته له افغان حکومت سره کېني. له دې ټولو داسې ښکاري، چې د ولسمشر غني او امریکا ترمنځ رامنځته شوی واټن په کمېدو دی او امریکا هڅه کوي، افغان حکومت د دغې پروسې ملاتړی واوسي نه مخالف. پای

# جایگاه افغانستان در پنجاه و پنجمین کنفرانس مونیخ



پنجاه و پنجمین کنفرانس امنیتی مونیخ، جهت بررسی چالش‌های سیاسی و امنیتی جهان، هفته گذشته (از ۱۵ الی ۱۷ فبروری سال ۲۰۱۹م) در شهر مونیخ آلمان برگزار گردید. در این نشست سه روزه ۳۵ تن ازرهبران دولت‌ها، ۵۰ وزیر خارجه، ۳۰ وزیر دفاع و ده‌ها تن دیگر از رؤسای شرکت‌ها و نمایندگان سازمان‌های غیر دولتی از سراسر جهان حضور داشتند.

رئیس جمهور افغانستان نیز در رأس یک هیئت عالی‌رتبه در این کنفرانس اشتراک کرده بود و علاوه از اشتراک در این کنفرانس در حاشیه‌های آن با رهبران و مقامات دولتی برخی کشورها نیز دیدارهای جداگانه‌ی داشت. در این دیدارها تمرکز وی بیشتر روی قضیۀ صلح افغانستان و تعریف از صلح پایدار بود.

با آنکه پنجاه و پنجمین کنفرانس سالانۀ امنیتی مونیخ در حالی برگزار شد که قضیه صلح و خروج نیروهای خارجی از افغانستان سرخط خبرها در این کشور است و امیدها بر این بود که قضیه افغانستان بخش مهم آجندای این کنفرانس باشد؛ اما در این کنفرانس توجه اندکی به قضیۀ افغانستان شد.

پنجا و پنجمین کنفرانس سالانۀ مونیخ، قضیه افغانستان در کنفرانس مونیخ و حاشیه‌های این کنفرانس از جمله موضوعاتی اند که در این مطلب مورد بحث قرار گرفته اند.

## پنجاه و پنجمین کنفرانس مونیخ

کنفرانس امنیتی مونیخ از سال ۱۹٦۳م به این‌سو همه‌ساله در ماه فبروری جهت ارزیابی امنیت جهان برگزار می‌گردد. محل برگزاری این کنفرانس در هوتل 'بایریشر هوف' شهر مونیخ است. این کنفرانس در نوع خود بزرگترین انجمن مستقل جهانی برای تبادل نظر و بحث سیاست امنیتی بین‌المللی است که در آن چهره‌های ارشد بیش از ۷۰ کشور جهان گردهم می‌آیند.

اشتراک کننده‌گان این کنفرانس سران حکومت‌ها، وزیران، اعضای پارلمان‌ها، نمایندگان عالی‌رتبۀ نیروهای مسلح، شخصیت های برجسته از سازمان‌های بین‌المللی، نماینده‌گان جامعۀ مدنی و همچنان بخش‌های صنعتی و نماینده‌گان رسانه‌ها می‌باشند.

هفتۀ گذشته پنجاه و پنجمین دور کنفرانس سالانۀ مونیخ بود که به روزهای ۱۵، ١٦ و ۱۷ ماه فبروری سال جاری میلادی برگزار شد. با آنکه آیندۀ اتحادیۀ اروپا، چگونگی تجارت و امنیت بین‌الملل، کنترول تسلیحات و پیامدهای مبارزۀ قدرت میان امریکا، چین و روسیه از جمله موارد مهم بحث عنوان شده بودند؛ اما بیشتر بحث‌ها در این کنفرانس روی اختلافات آمریکا و اروپا، اتهامات قدرت‌ها علیه یگدیگر و چگونگی مبارزه علیه گروه داعش متمرکز بود.

در این کنفرانس مایک پنس، معاون رئیس جمهور ایالات متحده آمریکا ایران را به عنوان بزرگترین تهدید برای صلح و امنیت در خاور میانه عنوان کرد و نیز از کشورهای اروپایی به طور انتقادانه خواست تا از توافق هستوی با این کشور خارج شوند. پنس در سخنان خود تأکید کرد: «وقت آن فرا رسیده است که اروپا از توافقنامۀ هستوی با ایران خارج شود.» اما در مقابل محمد جواد ظریف، وزیر خارجه ایران ضمن اینکه اتهامات وارده از سوی مایک پنس را رد نمود، واشنگتن را عامل اصلی بی‌ثباتی منطقه خواند.

موضوع مهم دیگر در کنفرانس مونیخ تأکید بر نابودی گروه داعش بود. در این نشست روی استراتیژی غرب علیه داعش بحث شد. پاتریک شنهن، سرپرست وزارت دفاع امریکا در کنفرانس مونیخ گفت، واشنگتن برای مقابله با گروه داعش قصد دارد اشتراک متحدان منطقوی را تقویت کند و رویارویی با دولت اسلامی را به خارج از عراق و سوریه نیز گسترش دهند. وزیر دفاع آلمان نیز حفظ آماده‌گی برای مقابله با داعش را یک ضرورت خواند و تأکید کرد، با آنکه که داعش در عراق و سوریه ضربۀ سختی خورده؛ اما باید اذعان کرد که تغییر در چهره نیز داده و شبکۀ جهانی از سایر گروه‌های تروریستی را ایجاد کرده که قصد فعالیت زیر زمین را دارند.

## قضیۀ افغانستان در کنفرانس مونیخ

با آنکه در کنفرانس مونیخ دربارۀ هیچ موضوعی تصمیم الزامی اتخاذ نمی‌گردد؛ ولی رای‌زنی‌ها و دیدارهای سیاسی مهمی در آن صورت می‌گیرد. افغانستان با امید اینکه برگزاری نشست امنیتی مونیخ منجر به همکاری‌های بیشتر جامعۀ بین‌المللی به خصوص در بخش صلح و امنیت با حکومت افغانستان شود، در این نشست اشتراک نمود.

هرچند انتظار می‌رفت که با توجه به مذاکرات جاری صلح امریکا ـ طالبان و احتمال خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، قضیۀ افغانستان در صدر اجندای پنجاه و پنجمین کنفرانس مونیخ قرار خواهد داشت؛ اما چنین نبود و تنها کسی که در این کنفرانس به قضیۀ افغانستان اشارۀ کوتاهی داشت، انگلا مرکل نخست وزیر آلمان بود. مرکل در آخرین روز کنفرانس مونیخ نسبت به خروج سریع نیروهای امریکایی از افغانستان هشدار داد و گفت: «کار بزرگی در آلمان انجام شده، وقتی مردم قناعت یافتند که از امنیت آلمان باید در کوه‌های هندوکش دفاع شود.»

رئیس جمهور غنی در کنفرانس مونیخ در یک نشست ویژه‌ای که بگونۀ سوال و جواب انجام شد، نیز تلاش کرد تا خواسته‌ها و توقعات حکومت خود را در رابطه به پروسۀ صلح و همکاری‌های کشورهای غربی به صراحت بیان کند. غنی تلاش کرد که تعریفی از صلح پایدار را به جهانیان ارایه کند و تأکید بیشتر بر این داشت که به هیچ عنوان بدون مالکیت افغانستان صلح پایدار در این کشور تأمین نخواهد شد.

## حاشیه‌های کنفرانس مونیخ

حاشیه‌های کنفرانس امنیتی مونیخ فرصت مناسبی برای ملاقات های دوجانبۀ مقامات ارشد کشورهای جهان می‌باشد. پنجاه و پنجمین کنفرانس امنیتی مونیخ برای مقامات افغان نیز یک فرصت خوبی برای دیدار و گفتگوها با شرکای بین‌المللی و جامعۀ جهانی بود. در اینجا نگاهی به ملاقات‌های مقامات افغانستان در حاشیه‌های کنفرانس مونیخ داریم:

**دیدارها با مقامات امریکا:** رئیس جمهور غنی در حاشیۀ کنفرانس مونیخ بگونۀ جداگانه با مایک پنس، معاون رئیس جمهور امریکا، زلمی خلیلزاد، نمایندۀ خاص امریکا برای گفتگوهای صلح افغانستان و نانسی پلوسی، رئیس کانگرس ایالات متحدۀ امریکا دیدار و در رابطه به پروسۀ صلح و اصلاحات انتخاباتی بحث و گفتگو کرد.

مایک پنس در دیدار با اشرف غنی از برگزاری لویه جرگه مشورتی صلح و تلاش برای اصلاحات در کمیسیون انتخابات قدردانی کرد و اظهار داشت که امریکا متعهد است تا نگذارد افغانستان یک بار دیگر به لانهٔ امن برای "تروریستان" مبدل گردد. از سویی هم، زلمی خلیلزاد در دیدار با رئیس جمهور غنی روی اقدامات بعدی صلح به شمول برگزاری لویه جرگه مشورتی صلح و پیشرفت‌های اخیر در این رابطه تبادل نظر نمود. نانسی پلوسی رئیس کانگرس امریکا نیز در رابطه به پروسهٔ صلح و برگزاری لویه جرگه مشورتی صلح با رئیس جمهور غنی گفتگو کرد و اطمینان داد که امریکا متعهد به همکاری‌های دوامدار با افغانستان به شمول پروسهٔ صلح و مبارزه مشترک با تروریزم است و در این خصوص امریکا یک متحد استراتیژیک افغانستان باقی خواهند ماند. رئیس جمهور غنی نیز ضمن قدردانی از همکاری دوامدار دولت امریکا، افزود که نیاز است تا بحث‌های جاری در رابطه به صلح منتج به صلح پایدار در افغانستان گردد.

**دیدارها با مقامات اروپایی:** علاوه از مقامات امریکایی رئیس جمهور غنی در حاشیهٔ کنفرانس مونیخ بگونهٔ جداگانه با مقامات کشورهای اروپایی نیز دیدارها و گفتگوهایی داشت. در این میان انگلا مرکل نخست وزیر آلمان، ایرنا سولبرگ نخست وزیر ناروی، گاوین ویلیامسن وزیر دفاع بریتانیا، خانم فدریکا موگرینی مسوول روابط خارجی و نمایندهٔ خاص اتحادیهٔ اروپا و هلوسی آکار، وزیر دفاع ترکیه از جمله افرادی بودند که با رئیس جمهور غنی دیدار و گفتگو کردند.

در کل این دیدارها و گفتگوها بر محور مذاکرات بین‌الافغانی صلح، مبارزه با تروریزم، انتخابات ریاست جمهوری، همکاری‌های منطقوی و انکشاف و چگونگی ثبات در افغانستان می‌چرخید. همچنان مقامات اروپایی که با رئیس جمهور غنی دیدار کردند، هر کدام از همکاری‌های دوامدار خویش با افغانستان اطمینان دادند.

**دیدارها با مقامات سایر کشورها و سازمان‌ها:** رئیس جمهور غنی در حاشیهٔ نشست مونیخ با ستولتنبرگ، سکرترجنرال سازمان ناتو، همچنان داکتر انور محمد قرقاش وزیر دولت در امور خارجهٔ امارات متحده عربی، امیر قطر شیخ تمیم بن حمد آل ثانی و عبدالعزیز کاملوف وزیر خارجهٔ ازبکستان، بگونهٔ جداگانه دیدار و گفتگو کرد. در این دیدارها نیز پروسهٔ صلح افغانستان، همکاری برای مبارزهٔ مشترک با تروریزم و تحکیم بیشتر روابط دوجانبه موارد مهم گفتگوها بود.

در کل با آنکه در پنجاه و پنجمین کنفرانس مونیخ به قضیهٔ افغانستان توجهٔ اندکی شد؛ اما حکومت افغانستان تلاش نمود تا به جهانیان نشان دهد که افغانستان در خط نخست جنگ با "تروریزم" قرار دارد ونیاز است که این کشور در بخش امنیتی و مبارزه با گروه‌های مسلح همکاری شود. همچنان مقامات افغانستان با استفاده از وقوع حملات اخیر در هند و ایران تلاش کرد تا این موقف خود را برجسته‌تر سازد و نیز پاکستان را بدلیل حمایت از گروه‌های تروریستی زیر فشار جهانیان قرار دهد.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com